AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۲/۱۲/۲۲

# ناښاغليه!

زه په دې نه پوهېږم، چې ته پر څه باور لرې؟ له معنوي پلوه دې پر څه روحي تکيه کړې ده؟ ښايي يوازې او يوازې پر «پانګه» يا هم تکنوکراتيک = ديپلوماتيک شهرت؟ !

خدايزده.

پر دې ټينګ باور لرم، چې پر خدای، اخلاقو، عاطفي او ملي حس باور نه لرې. ملي حس خو ځکه نه پېژنې، چې ته بې ملته يې. خپل لومړنی ملت دې پرېښی او دويم ملت دې ستا په روح او لاشعور کې ځای نه لري. له همدې پلوه ته يو بې ملته بنيادم يې.

ناښاغليه استازيه!

ستا کتاب چا راکړ، خو ومې نه غوښته پر لوستلو يې خپل ډېر ارزښمن وخت ابته کړم. ځکه پوهېدم، چې ټول کتاب دې له دروغو ډک دی. ته د افغانستان له تاريخ سره تړلی تر ټولو دروغجن کرکټر يې. خو کوم چا ستا له دروغنامې څخه يوه برخه راجوته (Bold) کړې وه، چې:

«کومه ورځ دې مور درته ويلي و: افغانستان مه هېروه!...» پر ټول کتاب دې د دروغو مُهر ځکه وهم، چې تا په همدې جمله کې دروغ ويلي و، کله چې سړی د خپلې مور او د خپلې مور د هېواد په اړه داسې جفا کوي او دروغ وايي، نو هيڅکله به ريښتيا ترې وانه وري.

ستا رسنيزه او سياسي توجيه خو دا وه: چې: «ما خپل ماموريت تر سره کړ او بايد په بېړه مې خپل سرتيري راايستلي وای.»

دا يو کار دې ښه وکړل، چې وحشي وژونکي روبوټان دې له دې پاکې خاورې وايستل (لعنت په هغو شه! چې د دغو وژونکيو روبوټونو د راتللو لامل شوي ول)، خو د خپلې اروابښادې مور له وطن سره دې څه وکړل؟ که دې په وجود کې يا په تور اروا کې د معنوي ارزښت په نامه کوم څه لا ژوندي وي، دغه ارزښت ته دې جواب څه دی؟
څنګه دې وکړای شو، چې د يوه تور، استخباراتي، پټ، غايبانه، مرموز، مبهم او له عقدو ډک تړون په څو پاڼو کې يو ملت لاسترلی د ليوانو خولې ته وغورځوې؟

هغه نجونې چې دا يونيم کال له (ژوند) څخه محرومې دي، هغه ميليونونه افغانان، چې له لوږې مري، هغه ماشومان، چې د ډوډۍ په بدل کې پلورل کيږي، هغه روزل شوي افغانان، چې له هېواده وشړل شول، هغه تبعيد شوي افغانان، چې خپل مرګ ته شېبې شماري او هغه ارزښتونه، چې ستا د (مأموريت!) قرباني شول؟ د دې ټولو په اړه د خپل روح يا ضمير ( که يې ولرئ؟) په کومه برخه کې کوم ځواب لرئ؟

زه پوهېږم، چې ته د پانګوالی په دغه ناانساني منطق باور لرې، چې:

«پانګواکه سياست اخلاق، ارزښتونه او عاطفه نه پېژني، يوازې ګټې مهمې دي!»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دا به درسره ومنو، د دې منطق پر اساس به تا له خپل ماموریت څخه څو میلیونه ډالره معاش اخیستی وي، په خورا لوکس کور کې به ژوند وکړې، د مېرمني او زوی کمپنی به دې نورې وسلې هم صادرې کړي، چې د نړۍ نور ماشومان پرې ووژل شي... آیا د تاریخ دومره لویه بدنامي په دې مکافاتو ارزي؟

څواویاکلن یې، د بیولوژیک جبر له مخې چې طبیعت ډېره بښېګڼه درسره وکړې، نو شل کاله نور ژوند به وکړې دا شل کاله به د خپل (مأموریت) په کټلیو پیسو څومره مکډونالد وخورې، وبه څښې؟ په دغه ټولنه کې به دې ژوند د یوه عادي کارګر له ژوند سره څومره توپیر ولري؟

تاریخ پېژنې؟

د تاریخ قضاوت دې په نظر کوم اهمیت لري؟

راځه! هېڅ یوې بلې پوښتنې ته ځواب مه وایه، بس دا یو څه ځواب کړه:

تاریخ به ستا په اړه څه ولیکي؟

د افغانستان راتلونکي نسلونه به دې څه وګڼي؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ